# ژوند څنګه وکړو ؟!

(په ساده ژبه د ښاري کولتور یو سل او څو ټکي)

ټولونه: حسین دهکردي

ژباړه: مجیب الرحمن محمودي



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

# څنګه وکړو؟!

(په ساده ژبه د ښاري کولتور یو سل او څو ټکي)

ټولونه: حسین دهکردي

ژباړه: مجیب الرحمن محمودي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم : ژوند خنګه وکړو؟!

ټولونه : حسين دهکردي

ژباړه : مجيب الرحمن محمودي

ډيزاين : صادق الله صادق

چاپ کال : ۱۳۹۳ ل.

چاپشمېر : ۱۱۰۰ ټوکه

د خپرونو لړ : (۲۴۶)

**خپرندوی**

**ګودر کتاب خپرنځی - ننګرهار**

ګودر کتاب پلورنځی، لانديني پوړ، اسحق زي مارکېټ، بزازي څلورلارې، جلال اباد

اړيکې: ۰۷۹۵۳۵۳۶۱۰-۰۷۹۸۴۸۷۸۷۹-۰۷۹۷۵۰۰۵۰۶

meenasadiqs@gmail.com

د چاپ حقوق له خپرندوی ټولنې سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد عمر ابراهیمی

Telegram: @Ketabton

WhatsApp: 0093979500600

بسم الله الرحمن الرحیم

د دعاوو په هیله مو یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

خدای بښلي پلار ته!

چې تل به يې تعليم او نېکې لارې ته

هڅولم او زموږ د هوساينې په خاطر به يې

تل لاسونه تناکې وو.

م. محمودي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دې کتاب په اړه...

د یو حدیث شریف د مفهوم له مخې ((کامل مومن هغه دی، چې څه د ځان لپاره خوښوي، د بل مسلمان ورور لپاره یې هم خوښ کړي.)) ځکه د هر انسان لپاره دا نه ښايي، چې د نورو لپاره هغه څه خوښ کړي او یا یې وغواړي، چې هغه د خپل ځان لپاره نه خوښوي او نه یې غواړي.

موږ هره ورځ په خپل چاپېریال کې وینو، چې د ځینو کسانو لخوا د نورو پر وړاندې هغه کړنې ترسره کېږي، چې هغه یې په هېڅ صورت د خپل ځان لپاره نه خوښوي، نورو ته یې ضرر رسېږي او په اسانۍ سره یې مخنیوی هم کېږي یا دغه عادتونه اصلاح کېدای شي، یا هم په یوه وړوکي غوره کار سره د ډېرو زړونه تر لاسه کېدای شي؛ خو د ډېرو خلکو دې ته پام نه دی شوی، چې په یوه وړوکي او د اصلاح وړ کړنې سره موږ نورو ته څومره ضرر رسوو او که د همدې وړې ناوړه او ناخوښې کړنې پر ځای یوه وړه؛ خو ښه کړنه ترسره کړو؛ نو هم به مو نور له ضرر څخه په امن وي او هم به مو د دوی په زړونو کې ځای پیدا کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغه کتابګوټي کې به ولولو، چې د یو انسان لپاره د ورځني ژوند په ټولو اړخونو کې کومو ټکو ته پاملرنه لازمه ده، د کومو ټکو په پام کې نیول یوه ټولنه ژغورلای شي او کوم ټکي مو له نورو سره اړیکې تلپاتې کولای شي.

زه په پوره ډاډ سره ویلای شم، چې په دې کتاب کې د ځو وړوکو ټکو په پام کې نیول به په ټولنه کې د یوه ښه ژوند ضمانت وکړي او هغه کولتور به را منځته شي، چې ټولو ته د منلو وړ وي.

نو راځئ دا سمون له خپله ځانه پیل کړو، د نورو لپاره هغه څه وغواړو، چې د خپل ځان او کورنۍ لپاره یې غواړو او د نورو لپاره هغه څه ونه غواړو او خوښ یې نه کړو، چې هغه د خپل ځان او یا هم خپلې کورنۍ لپاره نه خوښوو.

په همدې هیله

مجیب الرحمن محمودي

(c) ketabton.com: The Digital Library



✍. د یوه پرمختللي ښار د لرلو لپاره باید د لوړ او عالي کولتور لرونکو ښاریانو خبرې واورو او په ښو خبرو یې عمل وکړو.

✍. د ځان په اړه هغه قضاوت غوره کړو، چې د نورو په اړه یې غوره کوو، نو هغه څه چې د ځان لپاره یې خوښوو، د نورو لپاره یې هم خوښ کړو او هغه څه چې د ځان لپاره یې نه خوښوو، د نورو لپاره یې هم خوښ نه کړو!

✍ـ ظلم او تېری و نه کړو! ځکه زموږ نه خوښېږي، چې ظلم او تېری را باندې وشي.

✍. نېکي وکړو! په هغه شان چې غواړو له موږ سره نېکي وشي. د خپل ځان لپاره هغه څه بد وبولو، چې د نورو لپاره یې بد بولو او د خلکو لپاره په همغه څه باندې خوښ واوسو، چې د ځان لپاره یې خوښوو.

✍. نه داسې، چې یوازې موږ د ښه کولتور څښتن واوسو؛ بلکې خپل اولادونه هم ښه کولتور لرونکي لوی کړو! داسې، چې که یوه ورځ په ټولنه کې مطرح او اغېز ښندونکي اشخاص ترې جوړ شي، د دوی په پالنه وویاړو...



✍. مطالعه ولرو...! خپله پوهه او مالومات زیات کړو او په ورځنیو خبرو اترو کې په منطق او له دلایلو سره خبرې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





✍. کله چې له یو چا سره مشوره کوو او یا له کوم چا څخه نظر غواړو، باید د هغه د نظر قدر وکړو او که یې نظر د قبول وړ نه وي، لږ تر لږه هغه یې د نظر له امله ملامت نه کړو.



✍. که د کوم ځای په اړه پوره مالومات ونه لرو؛ نو د بې ځایه زړه سوي، له امله له پټې غوښتونکي څخه لاره ورکه نه کړو.

✍. په خبرو او کړنو کې یوازې د خپلې غوښتنې مطابق عمل ونه کړو، په یوه روښانه تولنه کې پېژندل شویو اصولو، قواعدو او ځانګړو شویو انساني ارزښتونو ته متعهد واوسو.



✍. د نورو د شخصي وسایلو خوا ته ورنه شو. له موبایل څخه نیولې، تر کمپیوټر او د خاطرو تر کتابچې، آن د دفتر تر تلیفون پورې.

د بېلګې په توګه د چا د موبایل شخصي مسېجونه د هغه له اجازې پرته ونه ګورو....

(c) ketabton.com: The Digital Library




✍- د موټر چلونې پر مهال له بې ځایه هارن کولو څخه ډډه وکړو، لکه روغتون ته نږدې، په کوڅو او سړکونو کې، د استوګنې په سیمه کې، د کتابتونو او داسې نورو ځایونو تر څنګ.



همدا شان د سلام اچولو، مننې، نیوکې او نورو لپاره له هارن کولو څخه ډډه وکړو. په یاد ولرو: هارن کول به موږ ټول واورو، خو دا کار به ټول ښاریان په اندېښنه کې واچوي!!!

✍- په عمومي نقلیه وسایلو کې له سورېدلو نه مخکې لومړی هغه چاته وخت ورکړو، چې هغوی غواړي ښکته شي، وروسته موږ سواره شو.



✍- په ټولنه کې د بدو څیزونو له نشر او رواجولو څخه ډډه وکړو. هغه څوک چې یوه بده خبره، بد تصویر او بد فلم نشروي له همغې ګناه کوونکي څخه د نشر کوونکي ګناه په څو ځله زیاته ده.



✍- د نورو په کورونو کې له اجازې پرته د هغوی یخچال، د پخلنځي الماری، د جامو الماری او داسې نورو ته د ننه ور ونه ګورو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په موټر کې د سورېدلو پر مهال، مخکېنۍ او یا آرامې چوکۍ د مشرانو او یا هم د مېرمنو لپاره پرېږدو، چې د ارامتیا احساس وکړي



- په عمومي نقلیه وسایلو کې د سورلۍ پر مهال د خالي او تشو چوکیو په لټه او ترلاسه کولو کې نه شو، ځینې وخت نورو ته اجازه ورکړو چې هلته کېني.

- په نامناسبو ځایونو کې د چټلیو او کثافاتو ادا چولو څخه ډډه وکړو، هغه که په عمومي نقلیه وسایلو کې وي، که په ښار کې وي او که په بل کوم عمومي ځای کې وي، ان تردې که د لمر مخې د دانې یو وړوکی پوټکی هم وی!!! خکه دا د ټولو ښاري وګړو ګډ



مسوولیت دی او ټول همدا خوښوي، چې خپل ښار یې په پاکۍ کې د نورو لپاره یوه ښه بېلګه او نمونه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library





- په عمومي ځایونو کې په لوړ غږ له خبرو کولو څخه ډډه وکړو ! په ځانګړې توګه په عمومي نقلیه وسایلو کې د سورلۍ پر مهال؛ ځکه نور خلک نه دي مجبور، چې زموږ خبرو ته غوږ ونیسي او دا هم کېدای شي، چې دوی دا وخت د فکر کولو او یا مطالعې لپاره وکاروي.

- د خپل ښار د ملي نقلیه وسایلو ښه ساتونکي واوسو ! ځکه دا نقلیه وسایل په یو شخص او یا یو ځانګړي سازمان پورې نه؛ بلکې د ښار په هر وګړي پورې تړاو لري. باور لرم، چې د ملي نقلیه وسایلو شکېدلې چوکۍ او په هغه لیکنې به هېڅ ته په زړه پورې نه وي !!!

- د موټر د پارک کولو پر مهال، خپل موټر په داسې توګه پارک نه کړو، چې د نورو ځای ونیسو او یا هم نورو ته ستونزه جوړه کړو.


- ټولو ځایونو ته، په خاصه توګه جوماتونو او زیارتونو ته له اوداسه سره، پاک او معطر ننه شو. تر دې چې په ځینو



ځانګړو ځایونو کې هم لکه: د مسافرۍ پر مهال، په لارو کې جماتونو او نورو لمانځه ځایونو ته جومات د خدای کور دی، که د مکې په ښار کې مسجد الحرام وي او که په یوه لرې پراته کلي کې او یا د دوو ښارونو ترمنځ د لارې پر سر او یا بل هر ځای، یو وړوکی جومات وي، د خدای کور دی. همدا شان له بوټانو سره جومات ته له ننوتلو څخه ډډه وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





✍ـ د جماعت د لمانځه پر مهال یو له بل سره همغږي واوسو. نـه مخکـې لاړ شـو او نـه وروسته پاتې شو. لومړی باید مخکینی صف پوره کړو، وروسته نور صفونه. دغه کار په موږ کې نظم، ترتیب، یووالی او همغږي را پیدا کوي

✍ـ د موټر چلولو پر مهال د ژر رسېدو لپاره باید یوازې خپل ځان و نه وینو! په څلور لارو کې د سرې ټرافیکي اشارې له امله داسې ځای موټر و نه دروو، چې نورو ته مزاحمت وکړو، پوره څرګنده ده، چې په دې کار به د هغو موټرو مخه ونیسو، چې ښي لوري ته د تګ نیت لري باید په یاد ولرو، هغه موټر لرونکي، چې ښي لوري ته د تګ نیت لري، د نورو په شان د سرې اشارې شنه کېدو ته په انتظار کولو نه دي مجبور، نو ځکه یې باید مخه خلاصه وي

✍ـ د موټر چلولو پر مهال په موبایل کې خبرې او یا هم تر څنګ روان موټر چلوونکي سره، له خبرو او یا پوښتنه کولو څخه په کلکه ډډه وکړو!!! ځکه دا کار کېدای شي، د موټر د کرار تګ لامل شي، چې وروستیو موټرو ته د



ټرافیکي ستونزو او تېز تګ د مخنیوي لامل کېږي. له یاده و نه باسو، چې نور مجبور نه دي، چې زموږ د خبرو کولو له امله وځنډېږي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره دا ده، چې د دې کار لپاره څو شیبې خپل موټر په یوه ورخای کې ودروو.

✍. د عبادت کولو پر مهال، که لمونځ، دعا، تلاوت او یا هم زیارت کول وي، د نورو حقونو ته درناوی ولرو. د نورو حقونه تر پښو لاندې نه کړو او د خلکو د حق مرتکب نه شو، دا ټول موږ ته په ګناه کې حسابیږي، د بېلګې په توګه د دغه واړه ټکي مراعاتول، چې په لوړ غږ چیغې وهل او یا د خپلو نقلیه وسایلو د بې ځایه درولو او یا هم په دې اړه نور هغه مسایل چې نورو ته د مزاحمت کولو او ارامتیا د سلبولو لامل نه شو! که په زړه کې دعا وکړو هم. الله پاک زموږ دعا اوري!!!



✍. په هر کار کې، په ځانګړې توګه د مینځلو پر مهال له ډېر لګښت څخه ډډه وکړو. ځکه الله پاک ډېر لګښت کوونکي نه خوښوي! ان که د لمانځه لپاره په اوداسه کولو کې هم وي

✍ـ ښې خبرې وکړو او خبرې ښې وکړو! په خبرو او مجلسونو کې نه یوازې ښې کلمې او ښه عبارتونه وکاروو، بلکې همغه کلمې او عبارتونه په درنښت او ښه توګه هم وکاروو. د بېلګې په توګه هغه درې مروجې کلمې، لکه مهرباني وکړئ، کېنئ او... چې یوه مانا ورکوي، خو لومړۍ یې غوره جمله ده.



✍. یو بل ته په درنښت خطاب وکړو! مقابل لوري ته په خطاب کې د هغه له نامه سره غوره القاب وکاروو، ان تر دې چې خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولادونو ته هم د لویانو لپاره غوره القاب کارول به زموږ اولادونو ته غوره شخصیت او په نفس اعتماد ورکړي ماشومان هم په ښه نوم یادول، کېدای شي یو وړوکی کار وي، خو ښه او لوړه اغېزه لري... ویې آزمویئ!

✍- په هر وخت او هر ځای کې د یو بل حقونو ته درناوی ولرو! د خپلو حقونو تر پښو لاندې کېدو څخه ټول ځورېدلي یو او ځورېږو. راځئ چې د ډوډۍ، پخلنځي، سودا اخیستلو، موټر سورېدلو او ښکته کېدلو، جومات او یا نورو عامه ځایونو ته د ننه کېدلو او نورو کارونو پر مهال یو بل ونه ځوروو!!

✍- یو له بل سره مرسته وکړو!! له ماشوم یا سپین سرې مېرمنې سره له سړک څخه د تېرېدو پر مهال، له موږ سره د کور په کار کې، له ناتوانه سره د پورته کولو پر مهال، له موټر چلوونکي سره د هغه د خراب شوي ګاډي د جوړولو په خاطر، له ړانده سره ځای ته په رسولو کې او نورو سره... مرسته وکړو! ډاډه اوسئ، چې دا کار به له بل هرڅه څخه موږ په خپله او زموږ خدای پاک خوشاله کړي!




✍- زموږ لمونځ، دعا، زیارت کول او بل هر عبادت که لرې وي او که نږدې، الله پاک یې ویني او اوري یې. نو اړتیا نشته، چې په هر قیمت او د نورو په ناارامه کولو سره، په زیارتونو او قبرونو باندې ځان ونښلوو او چیغې ووهو. ایا دا د منلو وړ ده، چې الله پاک هغه چا ته زیات اهمیت ورکړي، چې هغه په زیارت او یا قبر ځان نښلولی وي، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لرې پراته کلیوال څخه، چې د زړه له تله په خپل کور او یا خپله کرونده کې د کار کولو پر مهال سترې ستومانه په ډېره عاجزۍ، مخ د قبلې په خوا اړوی او د الله پاک عبادت کوي او له هغه څخه دعا غواړي؟

✍. د سپېڅلو او مقدسو ځایونو درناوی او پاکوالی وساتو؛ دا له یاده ونه باسو، چې جومات یانې د سجدې ځای او عبادت ځای او نورو... نو په داسې ځایونو کې په لوړ غږ خبرې کول، خندېدل، اوږد غځېدل، ویده کېدل او داسې نور ناوړه کارونه کوم مانا نه لري!



✍. د ډوډۍ خوړلو پر مهال لازمه نه ده، چې حریص واوسو. باید دومره ډوډۍ راواخلو، چې ویې خوړلای شو. باید دا له یاده ونه باسو، چې بې ځایه لګښت او تبذیر حرام دی!



✍. نه یوازې دا چې د ډوډۍ خوړلو پر مهال نورو ته په ډېرو خوړلو له تاکید څخه ډډه وکړو؛ بلکې د ډوډۍ خوړلو پر مهال نورو ته له هر ډول دقت، کتلو او مېلمه ته له اندازې زیات تعارف کولو څخه ډډه وکړو.

✍. په هر ځای کې چې یو، د هغه ځای قوانینو او مقرراتو ته درناوی ولرو. هغه شان کړنې تر سره نه کړو، چې زړه مو یې غواړي، هغه که د یوه

دوست او یا ملګري په کور کې وو، که په کومه اداره یا سازمان کې او یا که په کوم بل هېواد کې.



✍ـ قرانکریم، د احادیثو، د دعاګانو او اذکارو کتابونه، له مطالعې وروسته په خپل ځای کېږدو ! ځکه د داډول کتابونو پر ځمکه پرېښودل لویه بې احترامي ده. همدا شان د دغو کتابونو په پوښ یا پاڼو باندې د هرډول یادښت له لیکلو څخه په کلکه ډډه وکړو، که څه هم دا لیکنې مو د ثواب او خیر رسونې په نیت وي.



✍ـ کوم مجلس یا مېلمستیا ته د تللو پر مهال باید د ښه هرکلي له غوښتنې او ښه ځای د لټولو په لټه کې ونه اوسو.



✍ـ باید درک کړو، چې سګرېټ څکول، ناوخته راتګ، په ورځنیو خبرو کې د بدو کلمو کارول او داسې نور، هېڅ یو د کومې لوړې درجې او لوړ شخصیت نښه نه ده.


✍ـ د ډوډۍ خوړلو پر مهال مو له خولې څخه غږ ونه وځي او هېڅکله په ډکه خوله خبرې ونه کړو.



✍ـ له ډوډۍ خوړلو څخه وروسته، د نورو په مخ کې، په تار، خلي او یا بل، هېڅ شي سره، خپل غاښونه پاک نه کړو.

- عیب لټوونکو، خبرې وړونکو، غیبت کوونکو او بد ویونکو کسانو ته اهمیت ورنه کړو او نه باور ورباندې وکړو.

- له هغه قضاوت څخه ډډه وکړو، چې د هغو خلکو یا موضوع، د قضاوت صلاحیت ونه لرو.



- د موټر چلولو پر مهال، له توقف څخه د حرکت کولو، یوې خوا ته د راګرځېدلو، د موټر د پارک کولو او ... له امله د خپل تګلوري له ګړندي او ناڅاپي ګرځولو څخه په کلکه ډډه وکړو. باید پوه شو، چې د موټر ترافیکي اشارې په بشپړه توګه د همداسې وختونو لپاره دي، چې له خپل مستقیم تګلوري څخه یوې خوا ته له ګرځېدلو، درېدلو او... څخه کم تر کمه سل متره مخکې د موټر ټاکلې ترافیکي اشارې روښانه کړو؛ تر څو د نورو پام شي او له احتمالي ټکر یا بلې پېښې څخه مخنیوی وشي.



- په هغو ملي بسونو کې، چې ګڼه ګونه زیاته وي، د سورلۍ پر مهال نه یوازې مشرانو ته خپله چوکۍ پرېږدو؛ بلکې دغه نېک کار د هغه چا لپاره هم تر سره کړو، چې له کوم چا سره دروند پېټی وي، لکه د ښوونځي هغه زده کوونکي، چې دروند بیک ورسره وي او یا هم د وطن ساتونکي، چې په رخصتۍ کور ته او یا له کور څخه د دندې په خوا روان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



✍. په دروغجنو خلکو باندې هېڅکله باور ونه کړو، نه ورسره مجلس وکړو او نه دوستي. ځکه په ټولنه کې تر ټولو بې ارزښته خلک دروغجن خلک دي



✍. ماشومانو ته دروغ ونه وایو ! او له تنبلی پرته، دوی ته په ورکړل شویو ژمنو عمل وکړو !

✍. د خلکو خصوصي حریم ته درناوی ولرو او دغه حریم ته له کتلو او ورننوتلو ډډه وکړو. د بېلګې په توګه، که د کوم چا د کلا دروازه خلاصه وي، هغه ته ونه ګورو او هر ځای ته د ننوتلو لپاره اجازه وغواړو او د اجازې له ترلاسه کولو وروسته دننه شو.

✍. د موټر د درلودلو په وخت کې د پلي مزل کوونکو په پرتله بې تفاوته ونه اوسو ! پوهېږو، چې موږ ټولو، پلی تګ تجربه کړی دی، په ځانګړې توګه کله چې ستړي وو، نو په دې تمه وو، چې یو څوک مو په موټر کې ورسره سواره کړي او د خپل تګلوري تر یوه ځایه مو ورسوي نو چې کله په موټر کې سواره وو او داسې خلک ووینو، باید خپل ځان د هغه پر ځای وګورو او په موټر کې د هغه د سورولو په اړه بې تفاوته ونه اوسو.



✍. په کاري چاپېریال کې د منفي رقابت پر ځای، د ودې او پر مختګ لپاره یو له بل سره مرسته وکړو. خپلې تجربې له همکارانو سره شریکې کړو؛ تر څو هغوی هم له دویم ځلي تېروتنې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر کوښښ پرته پر مخکښ وکړي او دوی هم دا زده کړي، چې دغه غوره کړنه، له نورو سره تکرار کړي.



- کوم چانته د دښمن په سترګه ونه ګورو او له نورو خلکو سره، پرته له دې چې ویې وپېژنو، مینه ور سره ولرو او ټولو ته درناوی ولرو. هر ډول مرسته مو چې په توان کې وي، ور څخه ویې نه سپموو او له کوم احسان بارولو او یا سترګې نیولو پرته، یو له بل سره مینه وکړو.

- په هغه وخت کې، چې دوه تنه په خپل منځ کې پټې خبرې کوي او یا هم یو څوک په موبایل کې خبرې کوي، هغوی ته له غوږ نیولو او دقت کولو څخه ډډه وکړو.



- د کوم نارینه او مېرمنې د اولاد د نه شتون په اړه بې ځایه نظر څرګند ونه کړو او دلایل ونه وایو. ځکه دغه مسئله د خلکو د شخصي چارو یوه برخه ده. یا به یې اولاد نه وي غوښتی او یا به نه وربانديې توانېږي.

- د ډوډۍ خوړلو پر مهال هڅه وکړو، چې په ټولیزه توګه ډوډۍ وخورو، نه په یوازې توګه په یوه وخت یې له نورو سره پیل او بس کړو، په ځانګړې توګه هغه مهال چې کوربه وو، زموږ ژر پاڅېدل له مېلمنو څخه د ډوډۍ خوړلو ارامتیا له منځه وړي. همدا شان باید د دسترخوان په اوارولو او ټولولو کې برخه واخلو.



(c) ketabton.com: The Digital Library




✍ - پلاستیک، ښیښه، کاغذ، کارتن او ځیني نور د کارورو شیونه د باطلولو وړ نه دي انو خپل د کثافاتو سطلونه له اضافي او د کارورو شیونو نه ډک نه کړو، د ځمکې او چاپېریال د پاک ساتلو په خاطر د کارورو شیونه له کثافاتو او چټلیو سره یو ځای وا نه چوو.




✍ - په هر ځای او هر وخت کې، په هره لاره او هره پلمه د نورو د ارامتیا له سلبولو او یا د هغوی له وېرولو څخه ډډه وکړو. هیڅ منطقي دلیل نشته، چې نور خلک به خامخا د فوټبال د ډلې د بریالیتوب له امله له جوش او زوږ نه ډکو خوشالیو کې خان شریک کړي



✍ - له اجازې پرته د کورونو په دېوال یا دروازې اعلانونه ونه ځړوو !



✍ - په لېفټ کې له ټاکلي ظرفیت نه زیات سواره نه شو !



✍ که په ټکسي کې د سورېدو نیت ونه لرو، د سړک په څنډه باید ونه درېږو او که د ټکسي چلوونکی زموږ د درناوي په خاطر ودرېږي، په یوه سم حرکت هغه وپوهوو، چې موږ ټکسي ته نه یو ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



✍ هغه چالاکي، چې د نورو حقونه تر پښو لاندې کوي، چالاکي نه ده، بلکې د خپلو ګټو د تر لاسه کولو لپاره، په نورو باندې ظلم او تېری دی. رښتینې چالاکي هغه ده، چې د ابتکار او خلاقیت په کارولو سره، پرته له دې چې د نورو حقونه تر پښو لاندې شي، انسان ته ګټه ورسېږي.



✍ـ کله مو چې د موبایل یا تلیفون د شمېرې په دایرولو کې تېروتنه وکړه او د موبایل په کرښه کې اخوا کس ووېل، چې شمېره مو غلطه کړې، باید ژر موبایل یا تلیفون بند نه کړو ! له بښنې غوښتلو او خدای پامانی وروسته موبایل یا تلیفون بند کړو.

✍ـ په عامو او ځانګړو ځایونو کې د بدو او سپکو ونکو لغتونو او کلمو له کارولو څخه ډډه وکړو.

✍ـ د موټر چلونې په ورتیا کې کمزورتیا درلودونکي خلک باید نه مسخره کړو او نه یې سپکاوی وکړو ! ځکه زموږ له خوا په ملنډو وهلو او یا سپکاوي کولو سره، د هغوی دغه کمزورتیا په پیاوړتیا نه شي بدلېدی.



✍ـ له یاده ونه باسو، چې پلې لاره د پلي تلونکو لاره ده او سړک د موټرو او ...، نو باید په موټرسایکل، بایسکل، موټر کې په پلې لاره لاړ نه شو او نه هغه وخت چې پلی مزل کوو، د سړک په منځ قدم ووهو !

(c) ketabton.com: The Digital Library



✍. احساساتي او له دلایلو پرته په یوه خبره پسې تلونکي او یا منونکي ونه اوسو ! یوازې د خپل ځان لپاره ژوند ونه کړو ؛ بلکې په ټولیزه توګه، کار کولو باندې ځان عادت کړو او نېکمرغي نه یوازې د ځان لپاره، بلکې د نورو لپاره هم وغواړو....



✍. د خبرې، لهجې، کړنو او په ځانګړې توګه د یو بل د طبیعي توپیرونو له مسخره کولو څخه په کلکه ډډه وکړو. هېڅکله خپل ځان له نورو څخه لوړ ونه بولو او له لوړ بللو څخه ډډه وکړو، مګر په اخلاقو او انساني ارزښتونو کې....

✍. هڅه وکړو، چې خپلې دندې په کره توګه او له تنبلۍ پرته تر سره کړو. او په را سپارل شویو کارونو کې خپل ځان کم رانه ولو. همدا شان په خپلو ژمنو وفا وکړو، په ټولو ژمنو په ښه توګه عمل وکړو او د ژمنو د جزیاتو په پرتله، متعهد واوسو.

✍. د تګ راتګ پر مهال هڅه وکړو ؛ څو د هېواد لپاره، له عمومي ملي نقلیه وسایلو څخه کار واخلو، نه له شخصي نقلیه وسایلو څخه ! د پاکې هوا درلودل، نه یوازې زموږ حق دی، بلکې د هغې ساتنه زموږ د ټولو دنده ده.



✍. د موټر چلونې پر مهال، له اوبو څخه د تېرېدنې او یا باران د اورښت په وخت کې پام وکړو، چې د پلي مزل کوونکو د ازار او هغوی ته د اوبو د شیندلو لامل نه شو !

(c) ketabton.com: The Digital Library



✍. ښه امانت ساتونکي واوسو ! د نورو امانت ته زيان ونه رسوو او هغه يې په سمه توګه خپل څښتن ته ورکړو. د مطالعې په خاطر مو که له چا څخه کتاب، مجله او يا ورځپاڼه په امانت ډول اخيستې وي، د هغه په پاڼو کومه نښه يا ليکنه ونه کړو.

✍. په موټر کې د سورېدلو په موخه له بې ځايه درېدنې څخه ډډه وکړو، لکه د سړک په منځ کې، په موټر کې د سورېدلو په خاطر. همدا شان له موټر نه د ښکته کېدو پر مهال، ان تردې که موټر چلوونکی هم په داسې نامناسب ځای کې له تاسې څخه د ښکته کېدو غوښتنه وکړي، ځکه دا کار به د نورو خلکو د تېرېدو لپاره ستونزه جوړه کړي. نو بايد پام وکړو؛ ترڅو په يوه داسې ځای کې ودرېږو، چې موټر چلوونکی ناقانونه کړنې ته اړ نه کړو او د نورو د حقونو تر پښو لاندې کولو کې شريک نه شو !



✍. اړينې ټليفوني اړيکې بې له کوم سببه مشغولې او پرې نه کړو، کېدای شي موږ په دې کار سره يوه کورنۍ په اور کې وسوځوو.

✍. هلته چې تېروتنه زموږ له خوا وي، ويې منو، جبيره يې کړو او ښښنه وغواړو او د وضاحت غوښتلو يا موضوع د څېړلو په لټه کې ونه اوسو او همدا شان خپله پړه په نورو وانه چوو.

✍. د نورو شخصي مالومات، لکه ټلېفون، پته، د دندې په اړه مالومات او ... د هغه له اجازې پرته د نورو په واک کې ورنه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



✍ـ د نورو ښه کارونه د هغوی په خوښه له نورو خلکو سره شریک کړو. او په داسې کارونو سره په ټولنه کې نېک کارونه او مثبتې کړنې دود وګرځوو.



✍ـ داسې وګرځېږو، چې د هر لیدونکي په ذهن کې یوه ښه خاطره پرېږدو او په خپل ښار کې له ټولو نه زیات د خلکو په زړونو کې ښه ځای ونیسو.



✍ـ په ټولنیزو شخړو او دعوو کې د سیل کولو پر ځای د شخړو او دعوو په حل او مخنیوي کې مرسته وکړو.

✍ـ په هغو چارو کې ګډون ونه کړو، چې موږ پورې تړاو ونه لري او په هغو مسایلو کې د نظر څرګندونه ونه کړو، چې په هغه کې تخصص او مالومات ونه لرو.

✍ـ څرنګه چې خپلو خوشالیو ته د نورو له خوا په درنه سترګه کتل خوښوو، نو د نورو خوشالیو ته هم درنښت ولرو...، همدا شان څرنګه چې خوښوو؛ څو زموږ د ناراحتیو درنښت وشي، همداسې د نورو ناراحتیو ته درنښت ولرو.

✍ـ د مرستې لپاره ستونزه د حل په خاطر د نورو مخ ته راکش نه کړو او په حل کې یې د نه ګډون له امله لږ تر لږه په نورو امر او یا ممانعت ونه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library




✍ - د موټر چلونې پر مهال، هدف ته د ژر رسېدلو لپاره. له يوې او بلې خوا زغلولو او له يوه خط نه بل خط ته له تللو څخه ډډه وکړو. ايا تر اوسه مو فکر کړی دی، چې که ټولو غوښتي، چې د ژر رسېدلو لپاره همدا سې کارونه ترسره کړي، هېڅکله به هدف ته نه وو رسېدلي، نو د موټر چلونې پر مهال هېڅکله دا سې فکر ونه کړو، چې يوازې موږ بيړه لرو!



✍ - د نکاح، واده او يا هم کوژدې په مراسمو کې له بدعتونو، ناسمو دودونو او ناوړه عادتونو څخه پيروي ونه کړو او د ځوانانو لپاره ودونه اسانه کړو.

✍ - د ودونو په مراسمو کې د لارې له بندولو، ټرافيکي ستونزو، هارن وهلو او نورو غرېزو مزاحمتونو له رامنځته کولو څخه ډډه وکړو. کېدای شي په دې وخت کې يو عاجل ناروغ، روغتون ته د وړلو لپاره په لاره کې وي او يا هم يو څوک په کور کې د استراحت کولو په حالت کې وي. نو بايد پوه شو او درک کړو، چې دا تر ټولو وروستی ځان غوښتنه ده او د خلکو د حق ضايع کول او له ګناه نه ډک ژوند يو پيل دی.

✍ - دا انتظار ونه لرو، چې ټول خلک دې زموږ له غوښتنې سره سمې کړنې ترسره کړي!




✍ - د یوه ټولي د خندولو لپاره باید
په یوه بل کس له ملنډو وهلو،
سپکولو او پر یو بل له تور پورې
کولو څخه ډډه وکړو.

✍ - نورو ته د هغوی د عیبونو او کمزورتیاوو په اړه په پټه ووایو او
هغوی ته یې په ښودلو کې له لوړ آواز، مسخره
کولو او یا د هغه له سپکولو څخه ډډه وکړو.



✍ - دارو - درمل په خپل سر ونه خورو.

✍ - کله چې یو څوک د تصویر اخیستلو په حالت
کې وي، د کمرې په مخ کې یې تېر نه شو، همدا شان کله چې دوه تنه په
خپل منځ کې په خبرو وي، د دوی په منځ کې تېر نه شو؛ څو د هغوی د
خبرو د پرې کېدو لامل نه شو.



✍ - په سفر کې داسې وو، چې د هغه
سیمې خلکو ته د خپلې سیمې د منفي
تصویر ورکولو لامل نه شو، ځکه موږ
په هر بل ځای کې د خپلې سیمې د یوه استازي په توګه پېژندل کېږو.

✍ - هغه نیوکې چې یو پر بل یې لرو، مؤدبانه، څرګندې، ښکاره او
دوستانه یې وړاندې کړو، نه په کنایي توګه...



✍ - مینه کول دوه اړخیزه وي باید دا تمه ونه لرو،
چې که له یو چا سره مینه ولرو، هغه دې هم خامخا
له موږ سره مینه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





✍ ـ د ګڼې ګوڼې پر مهال په موټر کې تر هغې پورې له سپرېدلو څخه ډډه وکړو؛ ترڅو ډاډه شو، چې له موږ مخکې نور څوک موټر ته نه دي منتظر!!! یقینا داسې هم شوي دي، چې د نورو دا ډول چالاکیو موږ ډېر ناراحته کړي یو، دا چې ډېر ځنډ په موټر کې د سپرېدو په انتظار ولاړ یو؛ خو د موټر په را رسېدو سره سم، هغوی په بیړه په موټر کې سپاره شوي دي او موږ په همغه ځای پاتې یو.

✍ ـ د موټر چلونې پر مهال، د سړک په منځ کې د موټر له یوې لحظې درولو څخه هم ډډه وکړو!! که د سورلۍ د پورته کولو او یا ښکته کولو او که د بل څه لپاره وي دلیل یې ساده دی، دا کار د نورو د تګ مانع ګرځي، حتی د یوې لحظې لپاره هم!! او دا طبیعي ده، چې نور هم خپل یوې لحظې وخت ته ارزښت ورکوي؛ نو له ځانګړو شرایطو پرته باید یوه لحظه هم نور د سړک په منځ کې موټر ونه دروو.

✍. په خپله ژبه باندې، په خبرو اترو کې، د نورو ژبو د بې ځایه او بې مانا لغاتو او کلمو له کارولو څخه ډډه وکړو.

✍. یو بل په نېکو کارونو او له نورو سره مرستې ته وهڅوو او له نورو خلکو سره د نېکو کارونو په ترسره کولو کې مرسته وکړو.



✍. د خلکو د استوګنځي، شتمنۍ، جامو او ظاهري وضعیت د لیدلو له مخې د هغه د شخصیت په پېژندلو کې قضاوت ونه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



✍ ـ د هغه نقل قول، خبر او نظر له خپرولو څخه ډډه وکړو، چې کره سرچینه و نه لري

✍ ـ هېڅکله له سرې ټرافیکي اشارې څخه تېر نه شو !! ان تردې، که په موټرسایکل او یا هم بایسکل باندې سواره وو ! پوره څرګنده ده، چې دا کار د هغو ټولو خلکو د حقونو د تر پښو لاندې کولو په مانا دی، چې د هغوی لپاره شنه اشاره روښانه ده.

✍ د یوې پېښې د پېښېدو پر مهال، له دعوې، شخړې، مقابل لوري ته د سپکاوي او په بېړه د نظر له ځرګندولو نه ډډه وکړو او مقصر یا مقصرینو ته اړونده پرېکړه، د پرېکړې اهل کسانو ته وسپارو.

✍ ـ د داسې خبر له خپرولو څخه ډډه وکړو، چې کېدای شي هغه د کوم چا په تاوان او یا ګټه تمام شي، دا کار په خبر رسونه کې بې انصافي او د موضوع له دواړو لوریو نه په یوه خوا ظلم او تېری دی.

✍ ـ له هغو خبرو او یا کړنو څخه ډډه وکړو، چې په مستقیمه او یا غیر مستقیمه توګه د دوو تنو تر منځ د اختلاف لامل کېږي او د غیبت او بد ویلو پر وړاندې پټه خوله پاتې نه شو، باید مثبت عکس العمل وښیو.



✍ ـ په عمومي ځایونو کې په موبایل کې په لوړ غږ له خبرو کولو څخه ډډه وکړو ! هر ښاري وګړی، د خپلو ستونزو او مصروفیتونو په فکر کې دی؛ نو نورو ته باید د مزاحمت لامل نه شو ! کېدای شي له غالمغال څخه، له ډک چاپېریال نه، آرام چاپېریال هر ښاري ته د خوښې وړ وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



✍ - د فوټبال او نورو لوبو په مسابقه کې د لوبغالو او داورانو په پرتله خپله نیوکه او اعتراض په سپکو کلماتو او بدو الفاظو څرګند نه کړو.



✍ - د سرې اشارې د لګېدو پر مهال د پلیو مزل کوونکو له خط څخه تېر نه شو ! دغه کار د پلیو تلونکو پر حریم باندې د تېرې په مانا دی او یا په دې شان دی، لکه کوم وخت چې د موټر چلوونکو لپاره شنه اشاره روښانه وي او پلي تلونکي د موټرو تر مخ له سړک نه تېرېږي. پام مو وي، چې دغه ټکی په پام کې نیول به، پلیو تلونکو ښاریانو ته درناوی او زموږ واټونو ته ښکلا ورکړي.

✍ - د موټر چلولو پر مهال، په هر ځای او هر وخت کې متعادل او وړ سرعت ولرو. له سټندرد سرعت څخه نه زیات او نه کم ! ډېر په ورو ورو موټر چلول هم، نه یوازې د ټرافیکي ستونزو د رامنځته کولو لامل کېږي؛ بلکې نور موټر چلوونکي هم ځوروي او له مستقیم خط څخه د وروستیو موټرو د سرغړونې لامل هم کېږي، چې په دې کار سره به د وروستیو موټرو د هارنونو اوازونه زیات شي او په فضا کې به د غالمغال د ډېروالي لامل شي.

✍ - د خبرو کولو او یا تلیفون کولو پر مهال، د خوړو او یا کوم شي د ژوولو څخه په کلکه ډډه وکړو، ځکه دغه کار مقابل لوري ته په ټیټه سترګه کتل او سپکاوی دی.



✍ - د پرنجي، ټوخي او ارګمي، پرمهال خوله پټه ونیسو، ان تر دې که توانېدلو، په ورو وټوخېږو او وپرنجېږو او د پرنجي پرمهال باید (الحمد لله) ووایو.

- خپله پوهه د نورو مخ ته را ونه باسو، هغه په داسې توګه مطرح نه کړو، چې په ځان ښودنه کې وشمېرل شي.
- د سیند، ویالې، کاریزاو یا لښتي پر غاړه، د موټر، جامو، فرش، لوښو او... د مینځلو لپاره روانې اوبه چټلې نه کړو.
- په عمومي تفریح ځایونو او پارکونو کې د بوی لرونکو خوړو له پخولو ډډه وکړو، په ځانګړې توګه لکه: کباب، چرګ او نور پخول... چې د ټولنې غریبو خلکو ته د هغو برابرول ستونزمن او له توان څخه وتلي دي، باید د نورو په فکر کې هم واوسو. باید پوه شو، چې د کباب او داسې نورو خوړو بوی، وږي او یا غریب خلک څه، چې ماړه خلک هم ځان ته متوجه کوي.



- د موټر له بې ځایه درولو څخه لکه په منع شوو پارکونو کې، د نورو د کور په مخ کې، د پلونو په مخ کې، د سړک په هغو څنډو کې، چې ګرځندي وي، د اعلاناتو د لوحو په مخ کې، په هغو ځایونو کې چې د ترافیکي ګڼې ګوڼې د پېښېدو لامل کېږي او په هر هغه ځای کې چې په سبب یې د خلکو تګ راتګ ستونزمنېږي، په کلکه ډډه وکړو ! دا ډول کارونه، په دې مانا چې زه ارزښت لرم؛ خو نور یې نه لري ! په یاد ولرو، چې دا ډول بې ځایه د موټرو درول، زموږ ټولو د ناراحتۍ لامل کېږي.
- د موټر چلونې پر مهال د هغو خلکو لپاره ودرېږو، چې له سړک څخه د تېرېدلو نیت لري نه دا چې د خپل موټر سرعت نور هم زیات کړو، چې له سړک څخه تېرېدونکی شخص د تېرېدو زړه ونه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



✍ ـ له خپل کور پرته، د بل چا په کور کې، په دې اړه، چې تلویزیون روښانه دی یا ګل دی، دا شبکه دې وکتل شي او یا دا او همدا شان د تلویزیون کنټرول په غاړه اخیستلو څخه ډډه وکړو.

✍ ـ په خپل کور کې د مېلمه په شتون کې، له دې څخه ډډه وکړو، چې یوازې خپله خوښه په پام کې ونیسو. په داسې ځایونو کې د مېلمه درناوی وکړو، یا تلویزیون بند کړو او یا د ټولو خوښه په پام کې ونیسو.

✍ ـ د یو بل له غوره اخلاقو څخه بده استفاده ونه کړو ! داسې کړنې ترسره نه کړو، چې مقابل لوری، زموږ د کړنو له امله په خپل ښه کار او مهربانۍ سره پښېمانه شي.

✍ ـ د خپل چاپېریال په اړه بې پروا ونه اوسو، د خپل توان په اندازه عیبونه له منځه یوسو او یا له هغه چا سره مرسته وکړو، چې هغه یې توان لري او کولی شي، چې د چاپېریال عیبونه له منځه یوسي. یوازې په بد ویلو یا بد یادولو، عیبونه او بدۍ له منځه نه ځي.



✍ ـ شتمني او بډاینه هېڅکله د ښه شخصیت نښه نه ده؛ نو په بېلا بېلو ډولونو سره، د نورو مخ ته د خپلو شتمنیو له را ایستلو څخه په کلکه ډډه وکړو.



(c) ketabton.com: The Digital Library





✍ ــ د خلکــو د شخصــي او یــا خصوصــي موضوعاتو په اړوند پوښتنې او ګروېږنې ونه کړو! لکه عایدات، حقونه، د اولادونو شمېر، شتمني او ....

✍. هڅه وکړو، چې تل مثبت فکر وکړو، مثبتې خبرې وکړو. له منفي او ناراحت کوونکو خبرو څخه ډډه وکړو او د خپل روح او بدن د سلامتیا په خاطر هره ورځ سپورټ وکړو.

✍ ـ د نورو مور، خور او ناموس ته په کتلو، چلن او خبرو کې داسې واوسو. لکه څرنګه چې د خپلې خور، مور او ناموس لپاره د نورو کتل، خبرې او چلن خوښوو. له یاده ونه باسو، په هر لاس یې چې ورکړو، بېرته به یې په همغه را اخلو....



✍ ـ د روغتیایي اصولو په مراعاتولو او منظم مسواک وهلو سره، د خپلې خولې له بد بوی او نورو له ازار کولو څخه مخنیوی وکړو.

✍ ـ د مېلمستیا پر مهال، په خپل قاب کې د خوراک، سلاد او یا نورو څیزونو په را اچولو سره د نورو په حق تېری ونه کړو.

✍. کله چې له سړک څخه د تېرېدو پر مهال زموږ په خاطر موټر ولاړ وي، له ډېر ورو ورو تګ څخه ډډه وکړو، ځکه دا شان تګ د ولاړو موټر چلوونکو پر عصباني کولو بر سېره به دوی د دغه نېک کار له تکرارولو څخه پښېمانه کړي؛ نو پام مو وي، چې هېڅکله د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعمالو په خاطر نور خلک د نېکو کارونو له سرته رسولو څخه پښېمانه نه کړو !



✍- کله چې له یو چا سره د لیدنې وخت وټاکو، باید په خپل وخت ځان ورورسوو او که د کوم دلیل له مخې په خپل وخت ځان نه شو وررسولی، نو باید مقابل شخص ته خبر ورکړو.

✍- تبلیغاتي بروشورونو ته که اړتیا و نه لرو باید وایې نخلو، چې څو ګامه وړاندې یې بېرته وغورځوو ! باید یا یې له اول نه وانه خلو او یا مو که واخیستل او پوه شوو، چې په درد مو نه خوري، نو کم تر کمه، داسې ځای یې کېږدو، چې یو بل څوک استفاده ترې وکړي

✍- د غږ له اوچتولو څخه ډډه وکړو ! کور د خلکو د آرامتیا ځای دی، هغه غږونه لکه د راډیو، ټلویزیون، ټیپ، چیغې او ژړا؛ په انګړ کې لوبې کول، مزاحمت کوونکي تګ راتګ او ...



د هر ښاري د ارامتیا قانوني حق تر پښو لاندې کړي؛ نو د ژوندانه په چاپېریال کې باید د نورو ارامتیا ته درناوی ولرو.

✍- د خپل چاپېریال نظافت او پاکۍ ته ارزښت ورکړو ! کوڅه او یا د خپلو کورونو مخه د همدې کوڅې په خلکو پورې تړاو لري. کېدای شي د کورونو په مخه کې د ونو په اېښودلو او یا ښایسته ګلانو په کرلو سره، د خپل کور مخه د سیمې ټولو اوسېدونکو ته نشاط ښونکې کړو او همدا شان کېدای شي د کورونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مخه کې د کثافاتو او چټليو په اچولو سره د سيمې او سېدونکي پرېشانه شي؛ نو هڅه وکړو، چې نور خلک خوښ وساتو؛ تر څو خوشاله ژوند وکړو.

- د خرڅلاو او راکړې ورکړې، په معاملاتو کې صادق او رښتيني واوسو ! د موټر، کور او يا داسې نورو څه، په اخيستلو او خرڅولو کې، څرنګه چې موږ ټول دا خوښوو، چې د دا ډول څيزونو د اخيستلو پر مهال يې له ټولو عيبونو او ځانګړنو څخه خبر شو؛ نو د هر څه د خرڅلاو پر مهال يې بايد اخيستونکی له صفتونو او عيبونو څخه خبر کړو. او په خپلو وعدو وفا وکړو، له هرې معاملې مخکې د دې ټکي په پام کې نيول اړين دي

- کله چې د يوه شي بيه مالومه وي، نور د چنې (بولي) وهلو په نوم هېڅ حرکت کومه مانا نه لري؛ نو په داسې وخت کې بايد له هر ډول چنې (بولي) وهلو څخه ډډه وکړو.



- د خبرو کولو پر مهال د چا خبرې غوڅې نه کړو او اجازه ورکړو، چې هر څوک د نورو په اندازه خبرې وکړي



- د تېلو په پمپ کې، د تېلو اچولو پر مهال بيړه ونه کړو، له ارامتيا او حوصلې څخه کار واخلو او د پيسو په ورکولو کې نور عصباني نه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





✍ ـ د خپلو اداري امورو د ښه او په بیړه ترسره کولو په خاطر له هرډول غیر قانوني کړنې څخه ډډه وکړو! دا به یوازې زموږ په ګټه نه وي؛ بلکې د نورو د حقونو تر پښو لاندې کولو په مانا به وي، لکه د هغه زاړه سړي یا سپین سرې مېرمنې حق تر پښو لاندې کول، چې د همدې شان کار د ترسره کولو لپاره به یې په ورځو او یا اونیو د یوې اداري دروازه پرانیستې وي.



✍ .له مشرانو او سپین ږیرو سره د هغوی د اداري کارونو په ترسره کولو کې مرسته وکړو! په دې صورت کې باید ډاډه واوسو، چې زموږ کارونه به هم په بیړه او ښه توګه ترسره شي. همدا رنګه هغو کسانو ته لارښوونه وکړو، چې د اداري کارونو په ترسره کولو کې مالومات نه لري دا ټول کارونه یو ډول صدقه ده او کېدای شي، په ترسره کولو سره یې، په ښاریانو برسېره، الله پاک هم خوشاله شي.

✍ ـ د کور جوړولو پر مهال، کوښښ وکړو، چې وسایل او ساختماني مواد مو نورو خلکو ته په تګ راتګ کې د مزاحمت لامل نه شي او د خبرولو په یوې نښې سره د هغې ساحه مالومه کړو.



✍ ـ ډوډۍ، وریجې، اوبه، تېل، برق، ګاز او داسې نور څه، دا ټول د الله تعالی له نعمتونو څخه دي؛ نو د الله پاک په نعمتونو کې له ډېر لګښت څخه ډډه وکړو.

✍. هیڅکله خدمت کوونکي ته د هغه د نوم له یادولو سره د ورور یا خور له کلمې پرته اواز ونه کړو، دا کار د هغه شخصیت ته د سپکاوي په مانا دی.



✍. هر څوک د یوې تحصیلي رتبې په نوم یادول، د لوړ شخصیت نښه نه ده. خلکو ته د عادت په ډول او یا په درواغو د ډاکټر، انجینر او نور القاب ونه کاروو ا دا کار د تحصیل کوونکو د زحمت کم ارزښته ښکاره کول دي



✍. د موټر چلونې پر مهال په څلور لارو کې د سرې اشارې درناوی وکړو. همغه شان چې د موټرو تګ او ودرېدل، د شنې او سرې اشارې په واسطه خانګړي شوي دي، د پلیو تلونکو لپاره هم همدا وخت خانګړی شوی دی؛ نو هیڅکله دا تصور ونه کړو، چې که موټر نه وي، نو کولای شو، چې له سړک څخه تېر شو او دا فکر باید وکړو، چې که په دغه وخت کې موټر راشي، نو زموږ لپاره به دربړي



✍. د خپل ځان ظاهري ښه جوړښت او انظباط ته په عمومي ځایونو کې لکه ادارو، سازمانونو، بانکونو، ملي بسونو، ټکسیانو او نورو کې اهمیت ورکړو! ریښتیا ده، چې د یوه منظم، با انظباطه، خوږبویه او پاک ښاري، لیدل د هر چا په زړه کې ځای نیسي، د هغه ښاري په پرتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه غیر منظم، بې انضباطه او ګډوډ وي؛ نو لږ تر لږه هغه ډول ونه اوسو، چې د نورو د ځورېدنې لامل شو !



✍ - په تاریخي، تفریحي، مذهبي او نورو ځایونو او د عمومي موټرو پر څوکیو، دېوالونو، تازه قیر شوي سړک، تازه جوړ شوي دېوال، ونو او نورو همداسې ځایونو باندې یادګارونه ونه لیکو !

✍ - د موټر چلونې لپاره لګول شویو ټرافیکي لارښوونو، نښو او لوحو ته درناوی وکړو !!! باور ولرو، چې دا هره یوه لوحه یوه مانا لري، چې د ښې موټر چلونې او تګ راتګ لپاره، یوازې او یوازې زموږ د لارښوونې لپاره په ښار کې لګول شوې دي، البته نوموړې لوحې د ښار د ښکلا لپاره نه دي لګول شوي.

✍ - مخې ته راتلونکو پېښو کې مو پام وي، چې د ټرافیکي ګڼې ګوڼې او لارې د بندوالي لامل نه شو، چې معنوي تاوان او د خلکو حق تر پښو لاندې کول، د خلکو د وخت ضایع کول، آن د پولیسو په راغوښتلو مادي لګښت هم امکان لري. دا چې له دواړو خواوو څخه یو تن هم په دې خوښ نه دی، چې موټر د یو بل څنګ ته ورولي، له بده مرغه، د رښتیا ویلو په پرتله، دا یو پر بل د بې باورۍ نښه ده؛ نو باید رښتیني واوسو او یو پر بل باور ولرو !

✍ - په بانکونو او اداري ځایونو کې د کار لپاره، په موټر کې د سورلۍ لپاره او داسې نورو ځایونو کې له مخکیني کس څخه مناسبه فاصله نیول په پام کې ولرو !

چاپېریال کې) دوی ته زیان ونه رسوو. ټول ژوي، د الله پاک د خلقت او قدرت نښې دي، نو د الله پاک له ټولو مخلوقاتو سره باید مینه ولرو.

✍. په هره آزموینه کې د بریالیتوب لپاره له هر ډول غیر قانوني او غیر اصولي کړنلارې څخه ډډه وکړو. په درغلی، تګی او حق وژنه باندې د بریالیتوب په پرتله، په آزموینه کې پاتې کېدل یا ناکامېدل، ډېر شرافت مندانه او غوره دي

✍ـ له تاریخ جوړونې او له تاریخ نه د تېښتې څخه ډډه وکړو. تاریخ ولولو، مهم ټکي او درسونه یې ذهن ته وسپارو او له پندونو څخه یې د خپل ځان او هېواد د راتلونکې لپاره عبرت او درس واخلو.



✍. باید سهار وختي پاڅېدونکي واوسو!




✍ـ له تنبلی، بې کاری، بې زحمته او په اسانی سره د عاید له ترلاسه کولو څخه ډډه وکړو، د هغو پیسو ارزښت زیات دی، چې په کوښښ او زحمت سره ګټل شوې وي، له هغو پیسو څخه چې له زحمت پرته انسان ته ورسېږي

✍.هر کسب او کار چې لرو، د وسایلو او یا نورو خدمتونو د لګښتونو لپاره باید پوره دقیق او ځانګړې بیې ولرو. د هر توکي بیه باید له دود سره سمه او ځانګړې وي، نه د خلکو یا خپل زړه له غوښتنې سره سم، د دغو اصولو په پام کې نه نیول، ظلم او د بې عدالتی دود ګرځول دي.

- که موږ د کور څښتن وو، نو باید له کرایه نیوونکي یا اجاره نیوونکي سره سختي ونه کړو، هغه په هره موضوع کې تر فشار لاندې ونه نیسو او د هغه لپاره هر وخت ستونزه جوړه نه کړو.

که موږ اجاره یا کرایه نیوونکي وو، نو په کار ده، چې د خپلو ژمنو په پرتله وفا ولرو، داسې کړنې تر سره نه کړو، چې د کور څښتن له وروستیو اجاره نیوونکو او یا کرایه نیوونکو سره سختي وکړي.

- که موږ استاد یا ښوونکي وو؛ نو باید د تدریس په څرنګوالي او وخت کې کمښت رانه ولو. دا به زموږ له شان سره نه ښايي، چې له عمومي نظم سره سره، ټولګي له ټاکل شوي وخت مخکې رخصت کړو.





- که موږ زده کوونکي یا محصل وو، نو باید د مینې د نه لرلو، ستړیا او یا بل کوم دلیل له امله، له وخت نه مخکې د ټولګي د رخصت کېدو لامل نه شو. ځکه په دغه ځان غوښتونکي حرکت سره نور د درس مینه وال، زده کوونکي او محصلان له خپل طبیعي حق څخه بې برخې کوو، چې دا یو ډول ظلم او حق وژنه ده.

- که موږ د ښاري ملي بس چلوونکي وو، نو باید له بې اندازې زیات سرعت، بې ځایه هارن کولو او د نورو موټرونو، موټرسایکلونو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بایسکلونو او پلي تلونکو په وړاندې له بې رحمۍ څخه ډډه وکړو. دغه ځان لوی ښودنه او غیر قانوني موټر چلونه، هره ورځ د نورو پر وړاندې د ازار او اذیت د رامنځته کولو لامل کېږي او د نورو ښاریانو پر وړاندې په روحي او رواني ځورونه کې شمېرل کېږي.

✍- که موږ د دوو ښارونو تر منځ د ملي بسونو چلوونکي وو، نو باید له بې ځایه او خطر پېښوونکي موټر مخکې کولو، د بې ځایه او ناخوښې موسیقۍ، زیات سرعت او داسې نورو ناوړه کارونو څخه ډډه وکړو. لږ څه باید د مسافرو په فکر کې هم شو، چې مسوولیت یې زموږ پر غاړه دی.

✍- که موږ ترمیموونکي او یا کسب لرونکي وو؛ نو باید یوه ځای ته د تللو پر مهال، د خپل کار ټول وسایل راسره یوسو او له نورو خلکو څخه یې ونه غواړو، ځکه زموږ د کار وسایل معلوم او ځانګړي شوي دي؛ نو باید د کار پر مهال تل راسره وي، په دې تمه ونه اوسو، چې نور څوک یې دې په هرځای کې راته تیار کړي.



✍- که موږ ټکسي چلوونکي وو، نو باید د سورلۍ د سورولو او یا ښکته کولو لپاره په هرځای کې له درولو څخه ډډه وکړو، دغه کار د ټرافیکي ګڼې ګوڼې او لارې د بندوالي لامل کېږي او په نورو باندې ظلم دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



- که مور له یوه داسې ځا سره کار کوو، چې هغه ډېر مراجعین ولري، نو باید د وخت له ضایع، د خپل آمر د غوښتنو په اړه پام نه کولو، نا سم چلند او نورو ځخه ډډه وکړو. د خپل آمر د ستونزو نه اوارول، د نورو کارکوونکو بې ځایه وړاندیزونه، مراجعینو ته بې ځایه وخت



ورکول او کارونه یې ځنډول او یا یو کار د حل لپاره خپل آمر ته په ځنډ رسول او داسې نور، د الله پاک پر بنده ګانو باندې ظلم او تېری شمېرل کېږي.

- که مور مراجعین درلودونکی امر وو؛ نو باید له نامعقولو او غیر منطقي وړاندیزونو او د کارکوونکو په غوښتلو کې له تعصب او بې عدالتی، نورو ته د کارونو د ژر پر مخ بیولو لپاره له رشوت ورکولو ځخه ډډه وکړو.

- که مور پلورنځی ولرو؛ نو باید د پلي لارې له بندولو ځخه ډډه وکړو. فکر وکړو، چې که د پلورځیو ښښتنان وغواړي، چې پلي لاره د خپلو توکو د نمونې ایښودلو لپاره ځانګړي کړي، ایا د پلي تلونکو لپاره به نوره لاره پاتې شي؟ د پلي لارې کلمه معلومه مانا لري، یانې د خلکو د تګ راتګ لاره، نو په خپلو ځان غوښتونکو کړنو باندې باید د نورو پر حریم تېری ونه کړو !!!

- که مور کسب لرونکي وو، نو باید د مشتریانو د را جذبولو لپاره له هرډول چیغو او اوازونو ځخه ډډه وکړو. ځکه که ټول پلورونکي وغواړي، چې د مشتریانو د جذبولو لپاره همدا لاره غوره کړي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر وکړئ چې د ښار چاپېريال به څه ډول له چیغو ډک شي ؟! پوره څرګنده ده، چې د سړک چاپېريال تر یو چا پورې نه دی ځانګړی شوی او نه ټول خلک هلته د اخیستلو قصد لري؛ نو د خپلو ګټو په خاطر، په خپلو چیغو غږیزه ککړتیا را منځته نه کړو او د نورو د حقونو په پرتله بې تفاوته ونه اوسو !

✍. که موږ مېوه پلورونکي، سبزي پلورونکي او یا نورو و، نو باید له هرډول تبعیض او بد خرخلاو نه ډډه وکړو !!! غوره توکي پر سر او خراب په منځ کې پټ نه کړو. ښه توکي دوستانو او ملګرو ته، بد او عیب لرونکي توکي پردیو، غریبو او نورو خلکو ته ورنه کړو !



✍. که موږ مېوه، یا سبزي اخیستونکي وو، نو باید د توکو له هرډول په خوښه راټولولو څخه ډډه وکړو. آخر لږ فکر وکړو، چې دا عیب لرونکي توکي به د چا په برخه شي؟ د خرڅوونکي او که د غریبو خلکو؟



✍. که موږ یو ډاکټر وو، نو باید د ناروغانو د معاینې او تداوۍ لپاره د وخت له کم لګولو څخه ډډه وکړو. همدا شان د څو تنو یو ډول هغو ناروغانو له درملنې او تشخیص څخه ډډه وکړو، چې زموږ له درملنې څخه یې کومه مثبته پایله نه ده ترلاسه کړې.


(c) ketabton.com: The Digital Library



- که موږ د هوټل څښتن وو، نو باید سالم او تر ټولو ښه کیفیت لرونکي خواړه تیار کړو او په داسې ډول چلند وکړو، چې ګواکي ټول مراجعین زموږ د کورنۍ غړي دي.

- که موږ خوراکي توکي پلورو؛ نو باید پام مو وي، چې تاریخ تېر او بې کیفیته خوراکي توکي خپلو مشتریانو ته ورنه کړو! دا ومنو، چې په دې صورت کې د مصرفوونکي د هر ډول روغتیایي پایلو مسوولیت زموږ پر غاړه دی.

- که موږ د کوم کار اجاره نیوونکي یا مسوول وو؛ نو باید له موږ څخه غوښتل شوی کار د امکان په صورت کې له ښه کیفیت سره ورته وسپارو. د خپل تعهد په پرتله باید حساس واوسو. په یو وخت کې څو کارونه، چې یو د بل د کیفیت د خرابوالي لامل کېږي، قبول او تر سره نه کړو.



- که موږ ټولنیز مسوولیت لرونکي وو، نو باید د خپلو خبرو په پرتله متعهد واوسو، داسې څه ونه وایو او یا داسې وعده ورنه کړو، چې بیا یې پر ځای کول زموږ په توان کې نه وي. نیو که منونکي واوسو او کارونه اداره کوونکو او مدبرو خلکو ته وسپارو.

- که موږ قاضي او یا وکیل وو؛ نو باید با انصافه او عادلانه پرېکړه وکړو او په پرېکړو کې بشپړ پام وکړو، ان تر دې چې دواړو لوریو ته په کتلو کې هم باید عدالت مراعات کړو.

✍ـ که موږ رئیس او یا آمر وو ؛ نو باید د کارکوونکو پر وړاندې له نرمښت څخه کار واخلو. د خپل مقام له امله، تل امر او نهـــي ونکـــړو، د کـارکوونکو پـه حق کې تېری ونه کړو، حقونه یې تر پښو لاندې نه کړو. لایق او وړ کسان مقرر کړو، نه ملګري او نه واسطه شوي کسـان هغوی ته فرصت ورکړو، چې د پرمختګ لیاقت او توان ولري.




✍ـ که موږ کـارکوونکي وو، نـو بایـد د کـار ګومـارنې او هغـو دندو پـر وړاندې چې موږ ته سپارل شوې دي، متعهد واوسو. د ټولو لګښتونو پر وړاندې زړه سوی ولرو. په داسې توګه کار وکړو ؛ څو هغه کوم حقونه چې موږ ته راکول کېږي، پـه پوره خوښـه او خوشالۍ راکړل شي. که د راسپارل کېدونکي کار په ترسره کولو ونه توانېږو ؛ نو بـاید مخکې له مخکې خبر ورکړو او نور خلک په ناحقه له دغه چانس څخه بې برخې نه کړو.

✍ـ د خپل ځان او بل چا ترمنځ په پرېکړه کې خپل ځان معیـار او مقیـاس وګرځوو ! نور هر هغه څه چې د خپل ځان لپاره یې خوښوو، د بـل لپـاره یې خوښ کړو او هغه څه چې د ځان لپـاره یـې نـه خوښوو ؛ نو د بـل لپـاره یې هم خوښ نه کړو.

✍ـ باید تېری ونه کړو ! همغه شان، چې پر خپل ځان تېری نه خوښوو ؛ نو پر بل هم تېری ونه کړو !

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېکي وکړو او د خپل ځان لپاره هغه څه بد وبولو، چې هغه د نورو لپاره هم بد بولو او خلکو ته په هغه څه خوښ او راضي واوسو، چې هغه د خپل ځان لپاره خوښوو.

په دې هیله چې دغه کتاب ګوتې، لوېې او مثبتې اغېزې ولري تاسې هم هڅه وکړئ!

په پای کې:
زموږ او زموږ د ټولنې پر مختیا، له ژوند نه رضایت او خوښي لرل، یو بل ته د درناوي او احترام درلودلو پایله ده.
نو راځئ!!
چې د خپلو ناوړه اعمالو او کړنو له امله یو بل له دغه لومړنیو حقونو څخه بې برخې نه کړو.

په درنښت

mohammad omar
ebrahemzai
Telegram: @Ketabton
Wa: 0093795500604

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**